پرمختیا
اوونیزه
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۸٦ مه گڼه • پنجشنبه • د غبرگولي ۳۰مه • ۱۳۹۸



۸

# د ۳۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د لسو پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول



۱۲

برگزاری نشست مشورتی لیتاکا-۲ برای نهایی سازی رهنمود عملیاتی وجه نوآوری کوچک



٤

په کاپیسا ولایت کې ۵٤۰ کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې



# تکمیل کار یک شبکه آبیاری سولری به ارزش ۴ میلیون افغانی در خوست

۲٦ جوزای ۱۳۹۸

کار ساخت یک باب شبکه‌ی آبیاری سولری به ارزش ٤ میلیون افغانی در پارک تفریحی متان در مرکز شهر خوست از سوی برنامه ملی آبرسانی وزارت احیا و انکشاف دهات تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

این شبکه شامل حفر یک حلقه چاه به عمق ۷۳ متر، توسعه پایپ شبکه به طول ۲۰۰۰ متر، اعمار یک ذخیره آب به ظرفیت ٦۰ متر مکعب و نصب ۱٦ شیردهن، ۲۷ صفحه سولری و یک پمپ آب می‌شود.

با تکمیل کار این پروژه حدود ۷۰۰۰ درخت ناجو آبیاری شده و خانواده‌های آن محل نیز به آب آشامیدنی صحی دسترسی یافته اند.



## د کابل ولایت په موسهي او بګرامیو ولسوالیو کې د ۱۵۰۰ متره اوږد کانال چارې ۸۰ سلنه بشپړې شوې

۱۳۹۸/غبرګولي/۲۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د کابل د بګرامیو او موسهي ولسوالیو په بیلابیلو یو شمیر کلیو کې د اوبو لګولو د ۱۵۰۰ متره کانال د تحکیماتي پروژې کار ۸۰ سلنه بشپړ شوی، چې ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

په دې پروژې څه باندې ۱۸ میلیون افغانۍ لګښت شوی، چې ا سیمې خلکو ته یې ۸۰۰۰ کاري ورځې رامنځته او ۳۵۰۰ ځایي اوسیدونکي به ترې په مستقیم ډول ګټه پورته کړي.

د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې په بشپړیدو به د سیمې ۱۰ زره جریبه زراعتي ځمکه د اوبو لګولو ترمنظم پوښښ لاندې راشي.

## په ننګرهار کې د ۲۳۰ کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۲۸ غبرګولي ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت ، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د ننګرهار ولایت د کوټ ولسوالۍ د «شیرین غونډي حسن‌خان» په کلي کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه جوړه او د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

په دغه پروژه باندې د دولت له ملي بودیجې څخه څه باندې دوو میلیونه افغانۍ لګښت شوی چې په کاري بهیر کې د سیمې خلکو ته ۲۱۰۰ کاري ورځې رامنځته کړې وې او ۲۳۰ کورنیو ته د به د څښلو پاکې اوبه برابروي.





# په کاپیسا ولایت کې ٥٤٠ کورنیو ته د ښښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۲۷ غبرګولي ۱۳۹۸

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لوري د کاپيسا ولايت د مرکز محمود راقي اړوند په «قول بابر» او د حصه اول کوهستان ولسوالۍ په «جلدک» کليو کې د ښښلو د اوبو د دريو پروژو چارې بشپړې.

د اوبو رسولو په دغو دريو پروژو کې په «جلدک» کلي کې د ښښلو د اوبو ديوې لمريزې شبکې جوړول او ديوې ژورې څاه کيندل او په «قول بابر» کلي کې په لاسي بمبو سمبال د دريو څاه ګانو جوړول شامل وو.

په دغو پروژو باندې څه کم پنځه ميليونه افغانۍ لګښت شوي چې د دولت له بودجې څخه ورکړل شوي. د يادو پروژو په بشپړېدو سره په ذکر شويو کليو کې د شاوخوا ٥٤٠ کورنيو لپاره د ښښلو پاکې اوبه برابرې شوې.



# په هلمند کې د څه باندې د ۹،۲ میلیونه افغانیو په لگښت د کرنیزو اوبو لگولو کانال د جوړېدو کار روان دی

۱۳۹۸/ غبرگولي/ ۲۷

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د څه باندې ۹،۲ میلیونه افغانیو په لگښت د کرنیزو ځمکو د اوبو لگولو کانال د جوړولو کار د هلمند ولایت د لښکرگاه اړوند د غربي رباط، شمالي لښکرگاه، احمد خېلو، مختار او شمالي لښکرگاه بازار د شوراگانو له لوري روان دی. دغه کانال ۹۶۲ متره اوږدوالي او ۱۵۰ سانتي متره پلنوالي لري او په دې پروژه کې ۷۳ حقابې په نظر کې نیول شویدي. د نوموړي کانال د کار په بهیر کې ماهرو اوغیر ماهرو کاریگرو ته به ٤۳۲۰ کاري ورځې رامنځته کېږي او د بشپړیدو وروسته به ٤۷۹ کورنۍ ترې گټه اخلي. د یادونې وړ ده چې دغه کانال به ۸۰۰ جریبه ځمکه خړوبه کړي.



# توزیع ۲۲۰ پایه کارگاه و مواد قالین‌بافی برای عودت کنندگان در هرات

۳۰ جوزای ۱۳۹۸

پروژه انکشاف تشبثات برای عودت کنندگان برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات در هرات ۲۲۰ پایه دستگاه و مواد خام قالین‌بافی به ارزش ۵.۵ میلیون افغانی برای عودت کنندگان قالین‌باف که ۹۵ در صد آن را زنان تشکیل می‌دهند، توزیع کرد.

با توزیع این دستگاه‌ها به قالین‌بافان ولسوالی انجیل و گذره ولایت هرات، تعداد مستفیدین پروژه انکشاف تشبثات برای عودت کنندگان، به ۷۲۰ نفر در این ولایت می‌رسد.

هدف از توزیع این دستگاه‌ها ایجاد زمینه تولید به ویژه برای خانم‌ها میباشد تا از این طریق باعث رشد و تقویت اقتصاد خانواده‌های شان شوند.

# په خوست کې د ۳،۵ میلونه افغانیو په ارزښت د څښاك اوبو رسولو یوه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارله شوه

۲۵ غبرگولي ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو د ملي پروگرام لوري د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزي ولسوالۍ اړوند په «شډل» کلي کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه جوړه او د خایي خلکو گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

په دې شبکه کې ۱۰۸ متره ژورې څاه کیندل ، د ۲٦۰۰ مترو په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د یوې ۲۰ زره لېتره کانکریټي ذخیرې جوړول او د ۷۹ نل بندانو، ۲۷ تختو سولرونونه او پمپ نصبول شامل وو، چې ۳،۵ میلیونه افغانۍ پرې لگښت شوي.





# په ډایکندي ولایت کې څه باندې د ۲٦٥ زره افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو د یوې زیرمې د جوړولو کار بشپړ شو

۱۳۹۸/ غبرگولي / ۲٦

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د څه باندې د ۲٦٥ زره افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو اوبو د یوې زیرمې د جوړولو کار د دایکندي ولایت د میرامور ولسوالۍ د علي شاه خواجه غار کلي د پراختیايي شورا لخوا بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شو. د اوبو دغه زیرمه ٥۸ مکعبه متره ظرفیت لري او د کلیوالو ۳۰ جریبه ځمکه خړوبوي چې ٤۰۰ کورنۍ ترې گټه اخلي. د یادونې وړ ده چې په نوموړې ولسوالۍ کې د ۳۸۰ مکعبه مترو په ظرفیت یوه بله زیرمه هم تر کارلاندې ده چې په نږدې راتلونکې کې به بشپړه او گټې اخیستنې ته به ورسپارل شي.



# د ۳۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د لسو پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د هېواد په اوو ولایتونو کې د ۳۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د لسو پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه نن( د سې شنبې په ورځ د غبرګولي په ۲۸ ) له پرمختیایي شوراګانو سره لاسلیک کړل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي په هغو مراسمو کې چې په همدې موخه جوړ ول، وویل» یادې پروژې د هېواد په اوو ولایتونو: کنړ، کاپیسا، لوګر، خوست، جوزجان، کندهار او زابل ولایتونو کې پلي کېږي، چې یوه مهمه پروژه یې د کنړ سیند د استنادي دیوالونو ده، چې ٤۰ متره اوږدوالي لري، چې نږدې یو میلیارد او سل

میلیونه افغانۍ لګښت پرې کېږي خو نن ورځ د دې ٤٠ کیلومتره دیوال څخه د ١٠ کیلومتره په اوږدوالي دیوال هوکړه لیک، چې ارزښت یې ۲۹۰ میلیونه کېږي لاسلیک شو او پاتې برخه به یې په راتلونکي کال کې جوړه شي، چې ۳٦۰۰ هکتاره شاړه شوې، ځمکه به په کرنیزه ځمکه بدله کړه»

ښاغلي کریمي وویل، چې د یادې پروژې په کاري بهیر کې به ۸۵ زره کاري ورځې رامنځته شي او ٦۰ زره د سېمې اوسیدونکي به ترې ګټه اخلي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل:»چې د هېواد جمهور رئیس په ځانګړې سپارښتنه د کوچیانو د ژوند ښه والي په موخه به نهه پروژې چې پنځه یې د اوبو رسولو کانالونه دي او څلور نورې پروژې هم د څښاک د اوبو په برخه کې دي، ۲۱ میلیونه افغانۍ لګښت لري او د هېواد په شپږو ولایتونو: (کندهار، خوست، کاپیسا، لوګر، جوزجان او زابل) کې به پلي شي، چې په کاري بهیر کې به ۱۰۷۳۰ کاري ورځې رامنځته شي او ۳۱ زره خلک به ترې ګټه اخلي.

د یادونې وړ ده، چې څلوېښت کلن جنګ سخت فقر د کوچیانو ژوند، مالونو او څړ ځایونو سخت ځپلي، چې د افغانستان دولت په ځانګړي ډول د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت هڅه کوي، چې د بېلابېلو پرمختیایي پروژو له لارې د دوي ژوند کې مثبت تغییرات راولي.





# په کندز کې د څه باندې ۱،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د ١٦ څاه گانو د جوړولو کار بشپړ شو

۱۳۹۸/ غبرگولي / ٢٦

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام لوري د ١،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د ١٦ څاه گانو د جوړولو کار د کندز ولایت د علي آباد ولسوالۍ د حاجي حسین بالانهر کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دغه څاه گانې هر یو یې د ٤٠ مترو په ژور والي کیندل شویدي چې د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو اوغیرماهرو کارگروته ۲۹۷ کاري ورځې رامنځته شوې وې، چې ۲۹۷ کورنۍ به ترې گټه اخلي.

# په غور کې ۷۱ کورنیو سره د غیرخوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۸/غبرگولي/۲٦

د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې د یونیسف نړیوالې ادارې په همکارۍ د کورنیو جگړو لا املـه بېځایه شویو کورنیو سره د یاد ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست په همکارۍ مرسته وشوه.

په دې مرسته کې کمپل، ترپال، سطل، د فشار الې او روغتیایي کڅوړې شاملې وې.

د یادونې وړ ده ، چې له دې وړاندې د بادغیس ولایت د چهارسدې او جوند ولسوالۍ له ۱۳۰ کورنیو سره د غور ولابت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري مرسته شوې وه.





# په سرپل کې د څه کم درې میلیونه افغانیو په لګښت د ښاري بریښنا شبکې د غزولو کار روان دی

۱۳۹۸/ غبرگولي/ ۲۸

کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د څه کم درې میلیونه افغانیو په لگښت د د ښاري بریښنا د شبکې د غزولو کار د سرپل ولایت د مرکز اړوند د بغاوي بلوچ کلي د پراختيايي شورا له لوري روان دي. نوموړې پروژه د ۱۰۵ مترو په اوږدوالي د ۲۰ کیلو ولټ او د ۳۰٦۰ مترو په اوږدوالي ٤،۰ کیلو ولټ د بریښنا د مزیو د غځولو لپاره ۳۷ ستنې په نظر کې نیول شویدي. نوموړې پروژه د ۳۵۰ کلیو ولټ امپیر په ظرفت سره ۲ ترانسفارمرونه لري چې د شبکې په بشپړیدو سره به ۱۹۱ کورنۍ د ښاري بریښنا څخه برخمن شي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې کار ٦۰ سلنه بشپړ شوي او د جوړیدو په بهیر کې به د سیمې خلکو ته ٤۱٦ کاري ورځې هم رامنځته شي.



# برگزاری نشست مشورتی لیتاکا-۲ برای نهایی سازی رهنمود عملیاتی وجه نوآوری کوچک

۲۸ جوزای ۱۳۹۸

نشست مشورتی لیتاکا-۲ برای نهایی سازی رهنمود عملیاتی (وجه نوآوری کوچک) به رهبری محمد عیسی قدرت، معین برنامه وزارت احیا و انکشاف دهات و با حضور مسئولان برنامه انکشافی ملل متحد (UNDP)، اداره همکاری‌های بین المللی جاپان (JICA)، رؤسای برنامه‌های میثاق شهروندی، انکشاف اقتصاد روستایی، انرژی پایدار برای انکشاف دهات افغانستان و پروژه رشد معیشت در ساحات مرزی افغان تاجیک (لیتاکا-۲)، نمایندگان وزارت‌های زراعت و اقتصاد، رییس دانشکده‌ی اقتصاد دانشگاه کابل و نمایندگان سکتور خصوصی در وزارت احیا و انکشاف دهات برگزار شد.

در این نشست محمد عیسی قدرت، معین برنامه‌های وزارت احیا و انکشاف دهات از همکاری‌های تخنیکی برنامه انکشافی ملل متحد و کمک مالی اداره همکاری‌های بین المللی جاپان قدردانی کرده، افزود که لیتاکا-۲ بستر خوبی برای استفاده منابع محلی بوده و تلاش این برنامه برای ایجاد مارکیت برای خانم‌ها و آقایان، و تولیدات زارعین و تولیدکنندگان صنایع دستی ارزنده است.

در ادامه رییس پروژه‌ی لیتاکا-۲ گفت که این برنامه در ساحات تحت پوشش خویش توسط (وجه نوآوری کوچک) برای ۲۰ تن از متشبثین که ایده‌های تشبث بهتر داشته و باعث ایجاد کار برای مردم شوند، ده- ده هزار دالر امریکایی به منظور رشد تجارت‌شان، کمک می‌کند.

گفتنی است که این نشست با هدف به اشتراک گذاری معلومات و طرزالعمل عملیاتی با مشترکین برگزار شده بود و قرار است نتایج آن در رهنمود گنجانیده شود.